## د موټر د خرڅلاو تړون

د ۱۳۹۸ کال د دلوې د میاشتې د۲۲ نېټې د موټر د خرڅلاو دا تړون د **شهیر (خرڅونکی)** د لغمان ولایت اوسیدونکي او د نذیز **(اخیستونکي)** د کنړ ولایت اوسیدونکي ترمنځ دی.

## د ارادو اظهار

خرڅوونکی خپل سپین رنګه کرولا موټر د ۹۷ ماډل لرونکی په اخیستونکي باندې خرڅوي. اخیستونکی په تړون کې د ذکر شوو شرایطو له مخې د خرڅونکي موټر اخلي.

## د تړون اړوند اصطلاحات

**لاندې اصطلاحات په تړون کې لاندې ذکر شوي معنی ګانې لري.**

۱. **قیمت:** په افغانیو د موټر د ارزښت مبلغ دی چې ټولې یې( ۵۰۰۰۰۰) پنځه لکه افغانی کېږي.

**۲. د شخړو د حل واکمنه مرجع:** د ننګرهار ولایت د سوداګریزې خونې د حکمیت اداره او دولایت د سوداګری ښاري محکمه ده چې له تړون څخه رامنځته شوي شخړې د حل لپاره ورته وړل کېږي.

**۳. غټ تخنیکي عوارض:** هغه تخنیکي عوارض دي چې پربنسټ یې د موټر په قیمت کې حد اقل ۵۰۰۰ افغانی کمښت راځي.

## د تړون د اړخونو موافقه

**د تړون دواړه لوري په لاندې ډول موافق دي**

## د خرڅونکي له خوا د تړون د موضوع اړوند وضاحتونه

۱. خرڅونکی دا اعتراف کوي او تضمینوي چې خرڅېدونکی موټر یې سپین رنګ لري، ۹۷ ماډل یې دی او د جاپان د ټویوټا د کمپنۍ تولید دی.

۲. خرڅونکی دا مني او تضمینوي چې موټر یې ټول ټال ۱۰۰ کیلو متره ګرځیدلی دی.

۳. خرڅونکی دا مني او تضمینوي چې موټر یې هېڅ ټکر او یا هم غټ تخنیکي عوارض نلري.

۴. خرڅونکی دا مني او تضمینوي چې د موټر ټانکی کې یې اوسمهال ۵۰ لیټره تېل دي.

۵. خرڅونکی دا مني او تضمینوي چې موټر یې له کمپنۍ نه سپین رنګ لري او د دویم ځل لپاره نه دی رنګ شوی.

### د خرڅونکي دندې او مکلفیتونه

**۱.** خرڅونکی باید موټر د تړون د لاسلیک د نېټې نه یوه ورځ وروسته اخیستونکي ته وسپاري.

۲. خرڅونکی باید اخیستونکي ته د موټر اړوند ملحقات لکه تخنیکي وسایل، سیټ پوشونه او نور هم وسپاري.

۳. خرڅونکی باید اخیستونکي ته د موټر د تسلیمۍ پر مهال د موټر اړوند ټول اسناد وسپاري.

۴. ...

### د اخیستونکي دندې او مکلفیتونه

۱. اخیستونکی باید موټر له تسلیمۍ څخه مخکې په یوه تکړه مستري باندې چېک او وګوري.

۲. اخیستونکی باید د موټر قیمت ټول مبلغ په یوځل ورکړي.

۳. اخیستونکی باید تر لسو ورځو پورې په موټر کې د شته عوارضو څخه خرڅونکی خبر کړي.

۴. اخیستونکی باید د موټر د قیمت مبلغ د خرڅونکي د بانک اکونټ کې جمع کړي.

۵. اخیستونکی باید د موټر د قیمت مبلغ د کاډي له تسلیمی نه یوه ورځ وروسته د خرڅونکي اکاونټ کې جمع کړي.

**د شخړو د حل مرجع**

۱. د تړون لوري ژمن دي چې لدې تړون څخه د راپیداکیدونکو ټولو ستونزو د حل لپاره به د ننګرهار ولایت د سوداګریزې خونې د حکمیت اداری ته مراجعه کوي او خپله ستونزه حلوي.

۲. کچیرې د حکمیت پریکړه د تړون لوریو ته د منلو وړ نه وه او یا دا چې د حکمیت اړوندې اداری د شخړې له حل څخه معذرت وړاندې کړ، نو شخړه د حل لپاره د ننګرهار ولایت ښاري سووداګریزې محکمې ته وړاندې کیږي.

## د تړون د فسخې موارد

**د موټر د خرڅلاو دا تړون په لاندې حالاتو کې د فسخې وړ دی:**

۱. کله چې د تړون لوري له معقول عذر پرته په ټاکل شوې نیټې او وخت کې خپلې دندې ترسره نکړي.

۲. هرکله چې د تړون د لوریو په ژمنو کې فریب یا تیر ایستنه ثابته شي.

## ټول تړون

دا تړون یوه پاڼه همدا د تړون متن او دوه پاڼې د تړون د اړخونو تذکرو ته شاملیږي چې ټولې یې دری پاڼې کیږي.

## د تړون د اعتبار نیټه

دا تړون د لاسلیک له نیټې څخه یوه ورځ ورسته د اعتبار او انفاذ وړ دی.

---

د خرڅونکي نوم:

د اخیستونکي نوم:

د خرڅونکي لاسلیک:

د اخیستونکي لاسلیک: